ما وويل: اې د الله رسوله نجات څه شی دی؟ هغه وفرمایل: «خپله ژبه دې کنترول کړه، په کور کې دې پاتې شه او (د عبادت لپاره پکې خلوت کوه) او په ګناه دې وژاړه

له عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه عبارت دی وایي چې: ما وویل: اې د الله رسوله نجات څه شی دی؟ هغه وفرمایل: «خپله ژبه دې کنترول کړه، په کور کې دې پاتې شه او (د عبادت لپاره پکې خلوت کوه) او په ګناه دې وژاړه».

[صحیح دی] [الترمذي او احمد روایت کړی دی]

عقبه بن عامر رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې په دنیا او آخرت کې د مؤمن د نجات لاملونه څه دي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: درې کارونه باید وکړې: لومړی: خپله ژبه دې له هغه څه نه وساته چې خبر پکې نه وي او له هر ډول بدې وینا څخه، او له ښو پرته بل څه مه وایه. دویم: په کور کې پاتې شه او په خلوت کې د الله عبادت وکړه، د الله تعالى په اطاعت بوخت اوسه او د فتنو له شر څخه په کور کې ګوښه پاتې شه. دریم: وژاړه، پښېمانه اوسه، او له خپلو کړو ګناهونو دې توبه وباسه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3602